امارت اسلامی افغانستان
اداره آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه
## مدیریت حوادث

شماره یکصد و پنجاه و یکم
۲۹ حمل الی ۳ ثور ۱۴۰۵



### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس د افغانستان لپاره د تاجکستان د جمهوريت له سفير سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د تاجکستان د جمهوريت له سفير ښاغلي سعدي شريفي، پوځي اتشه خورشيد ادينازاده او لومړي سکرتر ښاغلي نظرعلي راووپوف سره وکتل او د بحث په اړونده برخو کې د همکاريو پر پياوړتيا يې خبرې او د نظر تبادله وکړه.
په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب تاجکستان يو ښه ګاونډی او همژبی هېواد وباله او د کونړ ولايت د زلزله ځپلو لپاره يې د هغوی له مرستو څخه مننه وکړه. نوموړي د اداري د کاري بهير د تشريح ترڅنګ وويل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره ورځ تر بلې لا پياوړې کېږي او هڅه کوو چې په بېلابېلو برخه کې خپل ظرفيت لوړ کړو. هغه همداراز، د سارز سيند په سيمه‌ييزې غونډه کې د ګډون لپاره د دې هېواد له بلنې څخه مننه وکړه او دا يې د تجربو د شريکولو په برخه کې يو مثبت ګام وباله.
د اداري لوی رئيس زياته کړه چې د پېښو د زياتوالي او د اقتصاد د ټيټې کچې له امله خلک بشري مرستو ته اړتيا لري او تمه ده چې تاسو خپلې مرستې دوامداري وساتئ.
په جواب کې، ښاغلي سعدي شريفي د ترابي صاحب له تود هرکلي څخه مننه وکړه او دواړه هېوادونه يې د ګنو ګډو ټکو لرونکي وبلل. نوموړي د وروستيو پېښو له امله له زيانمنو کورنيو سره د تاجکستان د خلکو او ولسمشر د خواخوږۍ پيغام شريک کړ او ويې ويل چې افغانستان نه يوازې د دې هېواد د بشري پالیسۍ برخه ده، بلکې موږ تل هڅه کړې چې دا موضوع په نړيوالو کنفرانسونو کې هم مطرح کړو څو لا زيات پام ورته راواوړي.
ښاغلي سفير په خپلو خبرو کې وويل چې موږ په افغانستان کې د تلپاتې سولې، سوکالۍ او آرامۍ غوښتونکي يو او د سوداګريزو او فرهنګي اړيکو پياوړتيا او همدارنګه د پېښو پر وړاندې ګډه مبارزه او د اقليمي بدلونونو د منفي اغېزو مخنيوی زموږ د راتلونکو پروګرامونو له لومړيتوبونو څخه دي.
نوموړي د نورو موضوعاتو ترڅنګ ډاډ ورکړ چې د اداري د لوی رئيس د سفر د زمينې برابرولو او د سارز سيند د ۱۱۵ مې کليزې په سيمه‌ييزه غونډه کې د ګډون لپاره به خپلې بشپړې هڅې وکړي.
په پای کې دواړو لورو د همکاريو او دوامدارو اړيکو پر دوام ټينګار وکړ، او همدارنګه د محترم الحاج ملا نورالدين ترابي له لوري محترم سعدي شريفي ته هغه ډالۍ چې له مخکې څخه په پام کې نيول شوې وه، ورکړل شوه.



### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د ډافا مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۲۲۰،۹۴۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ډافا مؤسسې له رئيس عبدالوحيد نوري سره وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم نامه يې ورسره لاسليک کړه.
په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب ماينونه او ناچاوده توکي يو جدي خطر وباله او د دې اداري او اړوندو مؤسسو ترمنځ يې پر دوامداري همغږۍ او همکاريو ټينګار وکړ.
همدارنګه، د يادې مؤسسې رئيس عبدالوحيد نوري د خپلې مؤسسې د فعاليتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او له محترم ترابي صاحب څخه يې د مؤسسو لپاره د برابر شوو اسانتياوو او همکاريو له امله مننه او قدرداني وکړ.
په پای کې، د دواړو لورو ترمنځ ټولټال د دوه لکه او شل زره او نه سوه او دوه څلويښت (۲۲۰،۹۴۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه، چې له مخې به يې دا مؤسسه د کندهار، زابل او غزني ولايتونو په ۱۸۸،۲۹۲ مربع متره ساحه کې ماينونه او ناچاوده توکي پاک کړي. همدارنګه، د هلمند ولايت په ګډون به په يادو ولايتونو کې د خلکو له خوا د راپور شوو بېړنيو پېښو ته ځواب ووايي او خلکو ته به عامه پوهاوی هم وړاندې کړي.



### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د نو آنلوس نړيوالې مؤسسې ترمنځ ټولټال د (۵۸،۴۲۸) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په خپل کاري دفتر کې د نو آنلوس مؤسسې له مرستيال فيضان احمد کاکړ سره وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.
په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د يادې مؤسسې مرستيال ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل چې د هېواد په ډېرو ولايتونو کې زيانمنې داسې کورنۍ شته چې مرستو ته زياته اړتيا لري، او اړينه ده چې ټولې همکارې مؤسسې او سازمانونه د دغو کورنيو سره د رسېدنې لپاره اغېزمنه همکاري وکړي، څو هغوی وکولای شي له بشري مرستو څخه برخه منې شي.
همداراز، محترم ترابي صاحب له يادې مؤسسې څخه وغوښتل چې د وقايوي پروژو د پلي کولو او د ښوېدو له خطر سره مخ د لويو ډېرو د له منځه وړلو په برخه کې هم له دې اداري سره همکاري وکړي.
په مقابل کې، د نو آنلوس مؤسسې مرستيال فيضان احمد کاکړ د اداري له لوی رئيس څخه د چارو د چټکتيا او له مؤسسو سره د اغېزمنې همکارۍ له امله مننه وکړه او د نوې پروژې په اړه يې معلومات وړاندې کړل. هغه زياته کړه چې دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لومړيتوبونو پر بنسټ ترتيب شوې دي.
د غونډې په پای کې د دواړو لوريو ترمنځ د اته پنځوس زره او څلور سوه او اته ويشت (۵۸،۴۲۸) ډالرو په ټوليز ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه، چې د دې تفاهم‌نامې له مخې به، د باميان ولايت په مرکز کې ۱۰۷ زيانمنو کورنيو ته دوه پړاوه خوراکي او يو پړاو غيرخوراکي مرستې وېشل کېږي. په دې توګه، چې هرې کورنۍ ته به ۱۰۰ کيلو اوړه، ۷ کيلو لوبيا، ۵ ليتره غوړي، ۱ کيلو چای، ۷ کيلو بوره، ۵ کيلو وريجې او يوه روغتيايي بسته چې ۱۷ قلمه توکي لري، ووېشل شي. سربېره پر دې، د دغو کورنيو لپاره به د تغذيې او حفظ الصحې په اړه د پوهاوي ورکولو پروګرامونه هم ترسره کېږي.



### د بلخ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۲۸۵۰ وچکالۍ ځپلو کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د SFL–WFP مؤسسې ترمنځ د لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې، د بلخ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې مؤسسې په ملاتړ، د دې ولايت په دولت آباد ولسوالۍ کې د مشروطه او غير مشروطه مرستو تر سرليک لاندې ۲۸۵۰ وچکالۍ ځپلو کورنيو ته له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې، ۲۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د ياد شمېر کورنيو لپاره اته ميلونه او دوه لکه او پنځه شپيته زره (۸،۲۶۵،۰۰۰) افغانۍ نغدي پيسې ځانګړې شوې وې.



### د بادغيس ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۲،۵۷۷ وچکالۍ ځپلو کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د World Vision مؤسسې ترمنځ د لاسليک شوي هوکړه ليک له مخې، د بادغيس ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولايت په مقر، سنګ‌آتش، غورماچ، بالامرغاب او جوند ولسواليو کې ۲،۵۷۷ وچکالۍ ځپلو کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلينو په شتون کې، د جوند ولسوالۍ ۱،۵۰۰ کورنيو ته د لومړي پړاو په توګه هرې کورنۍ ته ۲،۵۹۰ افغانۍ ورکړل شوې. همدارنګه، د مقر، سنګ‌آتش، غورماچ او بالامرغاب ولسواليو ۱،۰۷۷ کورنيو ته د درېيم او څلورم پړاو په توګه هرې کورنۍ ته ۵،۴۰۴ افغانۍ ووېشل شوې.
د يادونې وړ ده، چې د World Vision موسسې له لوري د ۲،۵۷۷ کورنيو لپاره ټولټال نه ميليونه او اوه لکه او پنځه زره او يو سل او اته (۹،۷۰۵،۱۰۸) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنيو د ياد رياست او مؤسسو له مسؤلينو څخه د مرستو ورکولو له امله خوښي څرګنده کړه او له هغوی څخه يې مننه وکړه.



### ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، برای ۲۰۰ خانواده که از اثر بارندگی های اخیر در شهر کابل آسیب‌دیده بودند، پس از سروی، کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.
در جریان توزیع این کمک‌ها، محترم مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل گفت که برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده، پس از تکمیل سروی، ۵۰ کیلوگرام گندم و یک بسته صحی شامل ۸ قلم مواد توزیع گردید.
وی افزود که روند سروی و رسیدگی همزمان در سطح ولایت جریان دارد و از مؤسسات ملی و بین‌المللی خواست تا در زمینه کمک‌های بشردوستانه با آسیب دیدگان همکاری نمایند.



### د ميدان وردګ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۵۰ زيانمنو کورنيو ته خوراکي او غيرخوراکي مرستې ووېشلې

د ميدان وردګ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، هغو ۵۰ کورنيو ته چې د وروستيو بارانونو او سېلابونو له امله زيانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي او غيرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهير کې د مسؤلينو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کيلو غنم، د يونيسف دفتر اړوند د هايجن کېټ يوه روغتيايي بسته، يو صندوق، يو څراغ، دوه جوړه بېترۍ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د بروشرونو يوه ټولګه ووېشل شوه.



### کشف و خنثی‌سازی مواد انفجارناشده در ولایت فراه

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با همکاری تخنیکی بخش ماین‌پاکی دفتر (DRC)، مواد انفجاری باقیمانده از جنگهای گذشته را در قریه مساو ولسوالی پشت‌رود آن ولایت کشف و به گونه مصوُن خنثی نمود.
این مواد شامل یک فیر مرمی هاوان ۸۲ میلی‌متری و هفت فیر مرمی BM۱ نوع ۱۰۷ میلی‌متری می‌باشد.
مسئولان آن‌ریاست تأکید کرده‌اند که وجود چنین مواد انفجاری تهدید جدی برای جان غیرنظامیان به‌ویژه کودکان محسوب می‌شود و از باشندگان محل خواسته‌اند در صورت مشاهده اشیای مشکوک، از نزدیک شدن به آن خودداری کرده و موضوع را به نهادهای مربوطه اطلاع دهند.



## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په بالابلوک او پشت رود ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۴۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، یو عدد صندوق، نیم کیلو تور چای، دوې پایې څراغ او ۸ عدده بطرۍ ووېشل شوې.




## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ملګرو ملتونو د بشردوستانه چارو د همغږۍ دفتر (OCHA) په همغږۍ او د Save the Children او DRC همکارو مؤسسې په مالي ملاتړ، د وروستیو سېلابونو او بارانونو له امله ۲۳۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، ۷۸ کورنیو ته د یاد ریاست له لوري هرې کورنۍ ته ۲ بوجۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲ څراغونه او ۲ صندوقونه ووېشل شول. همدارنګه، هغو ۹ کورنیو ته چې ډېر زیانمنې شوې وې، د یادو مرستو سربېره هرې کورنۍ ته یوه خیمه هم ورکړل شوه.
همدارنګه په نغدي مرستو کې، ۱۵۴ کورنیو ته د Save the Children مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۵۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، او له همدې ۱۵۴ کورنیو څخه ۱۱۲ کورنیو ته په پورتنیو نغدي مرستو سربېره د DRC مؤسسې له خوا هرې کورنۍ ته ۱۰۷۰۰ افغانۍ ورکړل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه او پنځه څلوېښت زره او څلور سوه (۲،۰۴۵،۴۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو له ترلاسه کولو خوښي څرګنده کړه او له اړوندو مسؤلینو او له همکارو بنسټونو څخه یې د دوی ستونزو ته د رسېدنې له امله مننه وکړه او همدارنګه یې د مرستو د دوام او زیاتوالي غوښتنه وکړه.




## کشف و خنثی‌سازی مواد انفجار ناشده در ولایت فراه

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با همکاری تخنیکی بخش ماین‌پاکی دفتر (DRC)، مقداری مواد انفجار ناشده باقیمانده از جنگهای گذشته را در قریه گرانی ولسوالی بالابلوک کشف و به‌گونه مصئون کشف و خنثی نموده است.
به گفته مسئولان، این مواد شامل دو فیر مرمی تنویری هاوان ۸۲ میلی‌متری بوده که تهدید جدی برای غیرنظامیان، به‌ویژه کودکان، محسوب می‌شد.
مسئولان از باشندگان محل خواسته‌اند در صورت مشاهده اشیای مشکوک، از نزدیک شدن به آن خودداری کرده و موضوع را به نهادهای مسئول گزارش دهند. روند پاکسازی مواد منفجرناشده در این ولایت همچنان ادامه دارد.





## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته د غیرخوراکي توکو مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ د نړیوال سازمان (IOM) او (PUMI) دفتر په ملاتړ، د یاد ولایت په خوګیانو ولسوالۍ کې د وروستیو شدیدو سېلابونو له امله ۳۰۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د (IOM) له لوري هرې کورنۍ ته یو عدد سولري څراغ، یو د پخلنځي کیټ، ۳ تختې کمپلې او ۶۹ کورنیو ته چې ډېرې زیانمنې شوې وې هرې یوې ته په پورتنیو مرستو سربېره یو باب خېمه او د (PUMI) دفتر لخوا هرې کورنۍ ته د روغتیا ساتنې کېټونه ووېشل شول.
په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو له ترلاسه کولو وروسته خوښي څرګنده کړه او د دوی ستونزو ته د رسېدنې له امله یې له اړوندو مسؤلینو څخه مننه وکړه او همدارازد لا زیاتو او دوامدارو مرستو غوښتونکي شول.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ډاډ ورکوي چې د زیانمنو کورنیو ملاتړ به دوام ولري او هڅه به کوي چې اړمنو کورنیو ته به لا زیاتې آسانتیاوې برابره وي.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۹۱ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د GAALO مؤسسې په ملاتړ، د یاد ولایت په ګربزو ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله ۶۹۱ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره څلور میلیونه او اوه زره او اته سوه (۴،۰۰۷،۸۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اړوندو مسؤلینو څخه مننه وکړه او د یاد اقدام هرکلی یې وکړ.







## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۶۳۴ خانواده بیجاشده داخلی، کمک‌های عاجل غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

براساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار پس از سروی، برای خانواده‌های بیجاشده داخلی ناشی از درگیری‌های اخیر، کمک‌های غذایی و غیرغذایی را توزیع نمود.
در این روند با حضور مسئولان، برای ۲۶۴ خانواده به هر یک، ۵۰ کیلو آرد، ۵ لیتر روغن، ۳.۵ کیلو شکر، ۴ قالب صابون، برای ۱۴۰ خانواده به هر یک ۵۰ کیلو آرد، ۱۲.۵ کیلو برنج، ۳.۵ کیلو شکر و ۴ قالب صابون و برای ۲۳۰ خانواده به هر یک ۵۰ کیلو آرد، ۱۰ کیلو برنج، ۳.۵ کیلو شکر و ۴ قالب صابون توزیع گردید.



## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۸ زیانمنو او بې ځایه شویو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان IOM، د خوړو نړیوال پروګرام WFP، د ماشومانو د ملاتړ او SI مؤسسو په ملاتړ، ۷۶ هغو کورنیو ته چې په کابل ښار کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې او همدارنګه ۱۰۲ کورنیو ته چې د وروستیو جګړو له امله د پکتیا ولایت د ډنډې پټان ولسوالۍ څخه بې ځایه شوې او کابل ښار ته راغلې وې نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش پر مهال، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس محترم مولوي نجیب‌الله انوري وویل چې د دې ریاست له لوري هغو ۱۰۲ کورنیو ته چې د وروستیو جګړو له امله د پکتیا ولایت له ډنډې پټان ولسوالۍ څخه بې ځایه شوې او په کابل ښار کې ځای په ځای شوې دي، هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو ګرامه غنم، ۲ کیلو بوره، ۱ کیلو تورې چای، یوه روغتیایي بسته، یو تخته توشک، یوه برستن، ۲ پلاستیکي صندوقونه او د اوبو د تصفیې ګولۍ هم ووېشل شوې.
همدارنګه نوموړي زیاته کړه، چې ۷۶ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې د IOM سازمان له لوري ۲۲ قلمه بېلابېل غیرخوراکي توکي، ۳ تختې کمپلې او یو باب خېمه ورکړل شوه. د ماشومانو د ملاتړ موسسې لخوا هرې کورنۍ ته یوه روغتیایي بسته، د SI موسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۵۴۰۰ افغانۍ او د WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۵۴۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او همکارو مؤسسو له هڅو ستاینه او قدردانی وکړ.




## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۸۶ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د AWCPO دفتر په همغږۍ او د خوړو نړیوال پروګرام WFP په ملاتړ، د یاد ولایت د ډنډې پټان او څمکنیو ولسوالیو څخه په لجه منګل ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله ۳۶۸ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته د دوه یم پړاو نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه میلیونه او دوه لکه او اته دېرش زره او اته سوه (۲،۲۳۸،۲۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.



## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس د کډوالو په پنډغالي کې د ماینونو د خطرونو په اړه د پوهاوي له پروګرام څخه څارنه وکړه

د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، حاجي ملا حبیب‌الله سعید، د ماینونو او ناچاوده توکو په اړه د خطرونو د پوهاوي له پروګرام څخه، چې د پُل ابریشم په صفري نقطه کې د کډوالو په پنډغالي کې د DRC مؤسسې له لوري ترسره کېږي، څارنه وکړه.
نوموړي دغه پروګرام د راستنېدونکو کډوالو لپاره د ماینونو د خطرونو په کمولو کې مهم وباله او د دې ډول پروګرامونو پر دوام او نورو سیمو ته یې پر پراختیا ټینګار وکړ.
د یادونې وړ ده چې دې پنډغالي ته هره ورځ ګڼ شمېر راستنېدونکي کډوال ورځي او دا ډول پروګرامونه د هغوی د ژوند په خوندیتوب کې مهم رول لري.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۸۴۵ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع نمود

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO با تمویل مالی سازمان جهانی غذا (WFP)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت تخنیکی مؤسسه متذکره، برای ۸۴۵ خانواده مستحق در شهر پلخمری ساحه شمرق مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این پروسه با حضور مسوُلان، قسط سوم کمک ها به هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع شد، که در مجموع مبلغ دو میلیون‌و چهار صدو پنجاهزارو پنج صد (۲،۴۵۰،۵۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۶۴۱ خانواده آسیب دیده و بیجاشده کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی مساعدت کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (CWSA)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی و تخنیکی این مؤسسه، در نواحی مختلف شهرجلال آباد، برای ۵۱۰ خانواده متضرر از بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر و در ولسوالی لعل‌پور، برای ۱۳۱ خانواده بیجاشده ناشی از جنگهای اخیر، پس از سروی، کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولین، از طرف مؤسسه CWSA برای ۵۱۰ خانواده به هر یک مبلغ ۱۰،۹۹۷ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ پنج میلیون و شش‌صد و هشت هزارو چهارصد و هفتاد (۵،۶۰۸،۴۷۰) افغانی پول نقد برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود. همچنان علاوه بر کمک نقدی، به هر خانواده یک کیت صحی، دو عدد بوشکه آب و یک عدد سطل پلاستیکی نیز توزیع شد.
همچنین از سوی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، برای ۱۳۱ خانواده به هر یک ۵۰ کیلو گندم، ۳ کیلو شکر، یک عدد چراغ دستی و یک عدد سطل پلاستیکی توزیع گردید.
در پایان، خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها با ابراز خرسندی از دریافت این مساعدت‌ها از مسئولین مربوطه ابراز سپاسگزاری نموده و خواستار تداوم چنین کمک‌هایی در آینده شدند.
قابل یادآوری است که ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار اطمینان می‌دهد که حمایت از خانواده‌های متضرر ادامه خواهد داشت و تلاش می‌کند تا تسهیلات بیشتری برای خانواده‌های مستحق فراهم گردد.



## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۸۴ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DACAAR، له ماشومانو ژغورنې د ملاتړ، د VDO موسسو او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په ملاتړ، د دې ولایت د جلال اباد ښار په ۱ او ۴ ناحیه او همدارنګه په پچیراګام او کوزکونړ ولسوالیو کې ۵۸۴ سېلاب ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د DACAAR مؤسسې له لوري له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۲۶ کورنیو هرې یوې ته د ۲۰ قلمه غیرخوراکي توکو لرونکی ۱ کېټ، د IOM سازمان له لوري ۲۶۴ کورنیو هرې یوې ته ۱ عدد سولري څراغ، ۱ د پخلنځي کېټ، ۳ تختې کمپلې، ۱۱۲ کورنیو ته چې کورونه یې په نسبي ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته د یادو توکو سربېره د بیا رغونې ۱ کیټ، همدارنګه ۵۲ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو هرې کورنۍ ته د یادو توکو سربېره ۱ باب خېمه، د ماشومانو د ملاتړ مؤسسې له لوري ۲۶۴ کورنیو هرې یوې ته د روغتیا ساتنې ۱ کېټ او د VDO موسسې له لوري د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي ملاتړ، ۹۴ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو په پار له یادو مؤسسو او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه مننه وکړه او خوښي یې څرګنده کړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۸ بېځایه شویو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس په لارښوونه، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ګوشته ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله ۱۶۸ بېځایه شویو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم، یو عدد څرغ، ۴ جوړه بېتړۍ او یو عدد پلاستیکي سطل ووېشل شول.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶ نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.



## په کندهار ولایت کې د لومړني خبرداري سیستمونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د KRO مؤسسې په ملاتړ، د سپین بولدک او ښکته شاه‌ولي‌کوټ ولسوالیو کې د سېلابونو د لومړني خبرداري درې سیستمونه نصب او ګټې اخیستنې ته وسپارل.
دغه سیستمونه د اوبو کچه او چټکتیا اندازه کوي او د خطر په صورت کې د خبرتیا زنګ په فعالېدو سره خلکو ته خبر ورکوي. او د دغو سیستمونو د ښه کارونې لپاره، ۵ تنه رضاکارانو ته ښوونه او روزنه هم ورکړل شوې ده.
د دې پروژې موخه د سیمې د اوسېدونکو د خوندیتوب کچې لوړول او د سېلابونو د خطرونو کمول ده.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا برای ۱۱۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا، بر اساس فیصله نشست اضطراری، با همکاری مالی مؤسسه IMC، برای ۱۱۵ خانواده آسیب‌دیده از بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر، کمک‌های غیرخوراکی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسؤلان، به هر خانواده یک بسته وسایل آب و ۲ تخته کمپل توزیع گردید.






## افتتاح پروژه‌های انکشافی در ولسوالی جانی‌خیل ولایت پکتیکا

بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (AYSO)، پروژه‌های انکشافی شامل پاک‌سازی دو کیلومتر کاریز در ساحه شنه‌زای، اعمار یک پلچک و دیوار استنادی به طول ۲۵۵ متر در ولسوالی جانی‌خیل ولایت پکتیکا افتتاح گردید.
این پروژه‌ها با حضور حاجی قاری عبدالهادی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا، مدیر انسجام و نظارت، و شماری از باشندگان محل رسماً به بهره برداری سپرده شد.
مسئولان هدف از تطبیق این پروژه‌ها را بهبود وضعیت زیربنایی، مدیریت بهتر آب و کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی در منطقه عنوان کردند.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي توکي ووېشل

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال سازمان (WFP) په مالي همکارۍ، د یاد ولایت په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۲۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي توکي ووېشل.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، ۴.۵۵ لیټره غوړي، ۶.۲۵ کیلو نخود او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.






## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۱۹ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی و غیر غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۱۹ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های خُلم و فیروز نخچیر آسیب دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های غذایی و غیرخوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده یک تخته کمپل، یک بسته آشپزخانه و یک بسته لباس طفلانه و برای منازلی که به‌گونه کلی تخریب شده‌بود، یک باب خیمه نیز توزیع گردید.



## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو سېلابونو له امله ۸ زیانمنو کورنیو ته مرستې ووېشلې

د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ASI، INTERSOS، ECOH_ADNO، UNICEF او AADA مؤسسو په همکارۍ، د یاد ولایت په چخانسور ولسوالۍ کې د وروستیو سېلابونو له امله ۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیټره غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۲ کیلو بسکېټ، د ۱۶ قلمه روغتیايي توکو ۲ کیټونه، یو ۲۵ قلمه د کور د وسایلو کیټ، چې کمپلې، توشکې او نور اړین توکي پکښې شامل دي او همدارنګه، هرې کورنۍ ته ۵۴۰۰ افغانۍ نغدې پیسې هم ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۱۷ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی، غذایی و غیر غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با هماهنگی موسسات حمایت اطفال، IOM و HIA، برای ۱۷ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در ولسوالی گرزیوان آسیب‌دیده بودند، کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسؤلان، از طرف دفتر حمایت اطفال به هر خانواده مبلغ ۱۱،۰۰۰ افغانی پول نقد و یک بسته هایجن شامل؛ ۱۴ قلم مواد توزیع شد که در مجموع مبلغ یک صدو هشتادو هفت هزار (۱۸۷،۰۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود، از طرف دفتر سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) به هر خانواده ۳ تخته کمپل، دو دستگاه گروپ سولری، یک بسته وسایل آشپزخانه و برای ۸ خانواده که منازل شان کلی تخریب شده بود به هر کدام یک باب خیمه نیز کمک نمود. همچنین، از دفتر هنگری (HIA) به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۱۸.۲ کیلو روغن، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو نمک و ۲.۱ کیلو بیسکویت توزیع شد.



## د سېلابونو له امله د پروان-بامیان تړل شوې لویه لاره بېرته پرانیستل شوه

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اعلان وکړ، چې د شینواري ولسوالۍ په برج ګلجان سیمه کې، د پروان-بامیان لویه لاره، چې د وروستیو سختو بارانونو او سېلابونو د راوتلو له امله تړل شوې وه، د پاکولو چارو له بشپړېدو وروسته د تګ راتګ پر مخ بېرته پرانیستل شوه.
دا لاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماشینرۍ ټیمونو او د پروان ولایت د ټولګټو ریاست په هڅو پاکه شوې ده. همدارنګه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ولایتي کمېټې ټیمونه سیمې ته استول شوي او د لارې په بېرته پرانیستلو کې یې اغېزمن رول لوبولی دی.
د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو ډاډ ورکړی، چې د زیانمنو شویو کسانو د ستونزو د حل او د لا زیاتو زیانونو د مخنیوي لپاره لازم اقدامات ترسره شوي دي.





## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د فراه رود ولسوالۍ په جنګل یونس، زرمردان، علي آباد او کوتل ګزک کلیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۲۰۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم، نیم کیلو تورې چای، دوې پایې څراغونه او یو عدد صندوق ووېشل شو.
د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټنګار کړی دي، چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو کورنیو ته به د مرستو رسولو په موخه په راتلونکي کې هم د سروې او ارزونې لړۍ دوام ولري.



## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۱ بېځایه شویو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په ناری ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله ۲۰۱ بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم، یو کاتن خرما، یو عدد څراغ، یوه تخته پلاستیکي ترپال او یوه بسته البسه ووېشل شوه.

## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰۰ بېځایه شویو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د OCHR مؤسسې په ملاتړ، د یاد ولایت په ناړې ولسوالۍ کې د ورستیو جګړو له امله ۱۰۰۰ بېځایه شویو کورنیو ته روغتیايي بستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې بېځایه شوې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه روغتیايي بسته ووېشل شوه.





## د کنړ ولایت په نرنګ ولسوالۍ کې د ویجاړ شوي سړک د بیرته خلاصولو او جوړولو لړۍ دوام لري

د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري د یاد ولایت د نرنګ ولسوالۍ په باډیل دره کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله د ویجاړ شوي او په ډېرو برخو کې د بند شوي سړک د بیرته خلاصولو او جوړولو لړۍ په چټکۍ سره دوام لري.
د دې ریاست د مسؤلینو په وینا، د دې سړک ډېرې برخې بیرته جوړې شوې او د پاتې برخو د جوړولو چارې یې دوام لري.





## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان برای ۹۰ خانواده بیجاشده کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس هماهنگی میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با سازمان غذای جهان (WFP) و تفاهم‌نامه این اداره با مؤسسه ویکسو (WCCSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان برای ۹۰ خانواده بیجاشده که در اثر جنگهای اخیر از ساحات نورستان شرقی به مرکز آن ولایت بی‌جا شده اند، کمک‌های غذایی توزیع کرد.
در این روند، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلوگرام آرد، ۹.۱ لیتر روغن، ۱۲.۵ کیلوگرام دال، ۲.۲ کیلوگرام بسکوت و ۱ کیلوگرام نمک در نظر گرفته شده بود که در حضور مسئولان به مستحقین توزیع گردید.
قابل یادآوری است که روند توزیع با شفافیت کامل و در هماهنگی با ادارات محلی انجام شده و تلاش‌ها برای ادامه کمک‌رسانی به سایر خانواده‌های مستحق در آن ولایت ادامه دارد.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP او IOM په ملاتړ، د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۴۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې، د خوړو نړیوال پروګرام له لوري، هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو دال، ۱۸.۲ لیتره غوړي، ۲ کیلو مالګه او د کډوالۍ نړیوال سازمان له لوري، هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې، د پخلنځي یوه بسته، یوه تخته فرش، یو جارو، ۳ عدد د اوبو بشکې، ۲ تختې ځان پاک، ۱۰ کلچې صابون او د یونیسیف اړوند د حفظ الصحې یوه بسته ووېشل شوه.
همدا راز، د یادونې وړ ده، چې هغو ۶ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، د کډوالۍ نړیوال سازمان له لوري هرې کورنۍ ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په مرکز، خیرکوټ، اورګون او برمل ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۷۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۳ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، یو کیلو توري چای، ۳ تختې چینایي کمپلې، یو من بوره، ۲ عدد صندوقان، ۴ عدد څراغونه ووېشل شول.





## د کندهار ولایت په دامان ولسوالۍ کې یو بمب کشف او خنثی شو

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هیلوترسټ ماین پاکۍ مؤسسې د (EOD–۰۱) ټیم په همکارۍ، د دې ولایت په دامان ولسوالۍ کې یو ناچاوده بمب کشف او په خوندي توګه خنثی کړ.
د یادونې ده، چې دا د لوتکې بمب له تېرو جګړو څخه پاتې شوی وو، چې په خنثی کولو سره یې سیمه پیزو ګړي له احتمالي خطر څخه وژغورل شول.
د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو غوښتې، چې د هر ډول چاودېدونکي او مشکوک توکي د لیدلو په صورت کې دې له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو د له منځه وړلو لپاره اړین اقدامات ترسره شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۱،۱۳۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، برای ۱،۱۳۵ خانواده شامل ورثه شهدا، زخمیان و بی جاشدگان در ولسوالی‌های سرکانو، منوره، دانگام و ناری آن ولایت، پس از سروی، کمک‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولین، از میان این تعداد خانواده‌ها، برای ۷۰۰ خانواده، به هر یک ۵۰ کیلو گندم، ۱ کارتن خرما، ۱ عدد چراغ، ۱ تخته ترپال پلاستیکی، ۱ کیت البسه؛ و برای ۱۹۸ خانواده بی‌جا شده، به هر خانواده ۵۰ کیلو گندم، ۱ کارتن خرما، ۱ بسته البسه توزیع گردید.
همچنان، برای ۷ تن ورثه شهید، به هر خانواده ۲۰،۰۰۰ افغانی، و برای ۲۷ تن زخمی، به هر یک ۱۰،۰۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ چهارصد و ده هزار (۴۱۰،۰۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.



## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۵ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خوړو نړیوال پروګرام WFP په ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز او بالابلوک، پشتکوه او بکواه ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۰۵ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل شو.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ډاډ ورکوي، چې په راتلونکي کې به هم د طبیعي پېښو له امله زیانمنو کورنیو ته پر وخت رسېدنه او هغوی ته د مرستو رسولو لړۍ دوام ولري.






## په جوزجان ولایت کې د ماین پاکۍ له بهیر او فعالیتونو څخه څارنه وشوه

د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په فیض‌آباد ولسوالۍ کې په ماینونو او ناچاوده توکو د ککړو سیمو د پاکولو له بهیر څخه څارنه وکړه.
دا څارنه د DAFA ماین پاکۍ مؤسسې او د QRT–۰۳ پروژې سره د شوي هوکړه لیک په چوکاټ کې ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې د ریاست پلاوي له کاري سیمو څخه لیدنه وکړه او د تخنیکي ټیمونو د فعالیتونو د کیفیت ارزونه یې وکړه.
د دې بهیر په ترڅ کې، په حیدرآباد کلي کې یو کړۍ ماین په خوندي ډول خنثی شو. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست دغه اقدامات د امنیت په ټینګښت او د ماینونو د خطرونو په کمولو کې اغېزمن بللي دي.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۸ زیانمنو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)، د ماشومانو د ملاتړ او SI مؤسسو په مالي ملاتړ، د سروبي ولسوالۍ ۸۸ هغو کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د IOM سازمان له لوري ۲۲ قلمه بېلابېل غیرخوراکي توکي، ۳ تختې کمپلې، د ماشومانو د ملاتړ موسسې لخوا هرې کورنۍ ته یوه روغتیایي بسته، د SI موسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۵۴۰۰ افغانۍ او د WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۵۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.
په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او همکارو مؤسسو څخه د مرستو په پار مننه او قدردانۍ وکړ.







## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۳۵۰ خانواده کمک‌های خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار، برای ۳۵۰ خانواده آسیب‌دیده و مستحق در مرکز آن ولایت، بعد از سروی کمک‌های خوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی توزیع گردید.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا برای ۱۲۱ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرغذایی مساعدت کرد

بر اساس هماهنگی میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و دفاتر IOM و UNICEF، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا با حمایت مالی این نهادها، در مرکز و ولسوالی‌های مختلف آن ولایت برای ۱۲۱ خانواده متضرر از بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر، پس از سروی، کمک‌های غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، با حضور مسئولین، از طرف دفتر IOM به هر خانواده یک بسته آشپزخانه، ۳ تخته کمپل، ۲ عدد چراغ سولری و برای دو خانواده که منازل‌شان تخریب کلی شده بود، به هر کدام یک باب خیمه از طر دفتر UNICEF به هر خانواده یک بسته صحی، یک عدد سطل و قرص‌های تصفیه آب توزیع شد.
مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا گفته‌اند که در آینده نزدیک کمک‌های بیشتری نیز برای این خانواده‌ها توزیع خواهد شد.




## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۵ بېځایه شویو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ موسسې (OCHR) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت له بېلابېلو ولسوالیو څخه د وروستیو جګړو له امله بېځایه شویو ۲۵۵ کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د حفظ الصحې یو کیټ ووېشل شو.

## د بادغیس ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۹ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د افغان ښځو د ټولنیزو خدمتونو موسسې (WASSA) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکې یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په تخنیکي ملاتړ، ۱۰۹ کورنیو ته، چې د یاد ولایت په قادس او دره بوم ولسوالیو او مرکز کې د وروستیو سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې مستحقې کورنۍ ته د مسولینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیټره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.





## د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۵۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د NRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي همکارۍ، د خوګیانو، پچیراګام ولسوالیو او د جلال اباد ښار د ناحیو اړوند ۸۵۰ کورنیو ته، چې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته، نغدي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې مستحقې کورنۍ ته د مسولینو په شتون کې ۱۱،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه نه میلیونه او درې لکه او پنځوس زره (۹،۳۵۰،۰۰۰) افغانۍ کیږي.
د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د دغو مرستو د وېش په پار له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه مننه او قدرداني وکړه.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل، مسیر راه ولسوالی خاک افغان را بازگشایی کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل در ولسوالی خاک افغان آن ولایت، راهی را که در پی بارندگی‌های اخیر و سیلاب‌ها مسدود شده بود، دوباره به روی تردد باز کرد. این راه دارای دو مسیر بود که یکی به سمت مرکز ولسوالی و دیگری به سمت تنگی گزک امتداد داشت.
این مسیر به هزینه مالی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، پس از ده روز کار، پاکسازی گردید. طول مجموعی هر دو مسیر به حدود ۱.۵ کیلومتر می‌رسد و این عملیات با هزینه ۰۰۰ ۱۴۳ افغانی انجام شده است.
قابل یادآوری است که روند بازگشایی این مسیر تحت نظارت کامل مسئولین مربوطه در آن ولایت به پایان رسیده است.



## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۳ بېځایه شویو او مستحقو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشل شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د WAR child CANDA او د PU–AMI مؤسسو ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو مؤسسو په ملاتړ، د دې ولایت په مرکز کې د وروستیو جګړو له امله ۱۰۰ بېځایه شویو او د نورګل ولسوالۍ په برنورګل او کوز نورګل کلیو کې ۱۱۳ تنه زده کوونکو ته له سروې وروسته د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د WAR child CANDA مؤسسې له لورې ۱۱۳ زده کوونکو هر یوه ته یوه د ژمنیو توکو بسته او د PU–AMI مؤسسې لخوا ۱۰۰ بېځایه شویو کورنیو هرې یوې ته یو د روغتیا ساتنې کیټ ووېشل شو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست پروژه ساخت یک کانال را افتتاح کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (AYSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت خوست با حمایت مالی این مؤسسه، پروژه ساخت یک کانال را در منطقه لتکو در مرکز آن ولایت با هزینه دو میلیون و هفت‌صدو بیست‌و هفت هزارو هفت‌صدو پنجاه‌و شش (۲،۷۲۷،۷۵۶) افغانی افتتاح نمود.
این پروژه با طول ۵۳ متر، با حضور معاون والی خوست، نمایندگان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و باشندگان محل افتتاح گردید.
مسئولان این کانال را گامی مهم در جهت مدیریت بهتر آب و کاهش خطرات احتمالی ناشی از حوادث طبیعی عنوان کردند.



## عامه پیغامونه:

۱. د زلزلې څخه وروسته ژر تر ژره د ټپیانو سره مرسته وکړئ
۲. همیشه د هر ډول طبیعي او غیرطبیعي پېښو د خطرونود مخنیوي لپاره چمتو اوسئ
۳. خیر د خلګو هغه څوک دي چې خلګو ته خیر رسوي (الحدیث)
۴. د سېلاب راوتلو په وخت کې د اوبو د جریان څخه لوړ او خوندي ځای ته ځان ورسوئ